کله چې دوه مسلمانان توره په لاس یو له بل سره وجنګیږي نو قاتل او مقتول دواړه په اور کې دي

له ابو بکرة رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې اوریدلي دي چې فرمایل یې: "کله چې دوه مسلمانان توره په لاس یو له بل سره وجنګیږي نو قاتل او مقتول دواړه په اور کې دي »، ما وویل: اې د الله رسوله! دا خو قاتل دی چې - اور ته به ځي - نو د مقتول څه ګناه ده؟ هغه وفرمایل: «هغه د خپل ملګري د وژلو لپوالتیا درلود».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې که دوه مسلمانان په خپلو تورو سره له يو بل سره مخ شي، او هر يو يې د بل د تباه کولو (وژلو) اراده ولري؛ نو قاتل د خپل ملګري د مستقيم وژلو له امله په دوزخ کې دی. د مقتول په اړه صحابه په ستونزه کې ولوبدل: چې څنګه به هغه په جهنم کې وي؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکړ چې هغه هم د خپل ملګري وژلو ته د لپوالتيا له امله په دوزخ کې دی او د قاتل له وژلو نه هېڅ شي منع نه کړ پرته لدې چې قاتل پرې چالاکي وکړه او ترې مخکې شو.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4304

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee